AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۸/۱۲/۰۹

# د کوچنیانو ادبیات د یوه ساینسپوه له نظره



**«زمونږ نسلونو د مثبتي فکري ودې نه کولو یو ستر لامل دا هم دی چې زمونږ د ماشوم ادبیات تر اوسه له مینه ناکو کیسو، ترانو او سندرو ندي مالامال شوي. په کتابونو او کورونو کې زمونږ ماشومانو ته اوس هم د زمریانو او لېوانو د ځناورتوب، کرکې او تبعیض کیسې کېږي، زمونږ سندرې او شعرونه له جنسي لوړې بوغارې وهي، نږدې ګرده ادبي نثرونه مو پر نرواکي او ښځه ځپنه کې غوټې وهي. پداسې ادبي فقر کې له نوي نسل څخه د سرېتوب څه تمه لرې برخوداره؟**
**لیکوالو حضراتو؛ دا چاره بدلول غواړي!»** (دوکتور محمد تنها)

دا پاسنۍ خبرې د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې د ډوکتور تنها نوی نظر دی چې ډېر تازه یې په خپله فیسبوک پاڼه کې لیکلی دی.

استاد ډوکتور محمد تنها د «هستوي فزیک» په څانګه کې پي اچ ډي (PhD) کړې ده او اوس په همدې برخه کې، د جرمني هېواد په یوه پوهنتون کې تدریس هم کوي، خو د نوي نسل د تعلیم په برخه کې په عملي او نظري بڼه داسې فعاله دی لکه چې ټول ماشومان، کوچنیان او ځوانان یې د خپلې کورنۍ غړي او یا خپل اولادونه وي.
د خپل مسلک، زدکړو، په تېره لوړو زدکړو په برخه کې یې علمي لیکنې په بي بي سي پښتو ویبسایت کې خپرېږي.
د لوړو زدکړو په برخه کې یې د څو علمي لیکنو سرلیکونه دا دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ د زدکړو په بهیر کې د باور بحران،

ـ له اوږده ځنډ وروسته بیرته ځنګه لوړو زدکړو ته مخه کړو؟

ـ په کومه برخه کې باید لوړې زده کړې وکړو؟

ما پخوا هم د استاد ډوکتور تنها پر ژوند، علمي شخصیت او افکارو باندې، د ده د ډوکتورا د بریالی دفاع د خوښی په پلمه یو مقاله لیکلې وه، چې تقریباً یو کال مخکې مې خپره کړه.

په فیسبوک کې یې د سیاست په برخه کې ژبه ډیره تونده ده، خو ډیره اصلاحي او را ویښونکې بڼه لري. د ډیری پوستونو مخاطبین یې ځوانان دي چې دی یې په بورسونو خبروي، ورته هڅوي یې او د فورمو د ډکولو لارې چارې ورښیي.

ډاکتر تنها دومره د نوي نسل د روزلو لیوال دی چې بل ساری یې ما نه دی لیدلی. دا یې د نوي نسل د روزلو سره د مینې یوه بېلګه ده:

«چې نن نه وم خوشاله نو کله به خوشاله وم ؟!
د خپلوانو له ډلې مو یو ځوان کورته راغلی وو، ول په ۱۴ کلنۍ کې له کلي یوازې را روان سوی یم او په خپل سر مې خوشال خان لېسه پیدا کړې، هلته مې سبک ویلی، اوس باختر پوهنتون کې د انجینري تر څنګ په آمریکایي پوهنتون کې د ټافل آزمویني ته تیاری نیسم او غواړم چې هارورډ کې لوړې زدکړې وکړم. ول پلار مې په دوبی کې نانوایي لري او بیسواده دی خو زما د تعلیم خرڅې ته چې هر رقم وي پیسې پیدا کوي او را لیږي یې. چې داسې کیسې اورم نو د خوشالی تر څنګ مې دې هیواد ته مظبوطه هیله پیدا شي.
دا وګړي ډېر کړې خدایه!»

خو په دې نږدې ورځو کې یې د نوي نسل د روزلو د افکارو او پلانونو د وړاندې کولو په لړ کې، د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې داسې یوه ټکي ته اشاره کړې ده چې: لکه د چا خبره «ټک او پټری» خبره یې کړېده. دا د ده د یاد پوست بشپړ متن دی:

**«زمونږ نسلونو د مثبتي فکري ودې نه کولو یو ستر لامل دا هم دی چې زمونږ د ماشوم ادبیات تر اوسه له مینه ناکو کیسو، ترانو او سندرو ندي مالامال شوي. په کتابونو او کورونو کې زمونږ ماشومانو ته اوس هم د زمریانو او لیوانو د ځناورتوب، کرکې او تبعیض کیسې کیږي، زمونږ سندرې او شعرونه له جنسي لوږې بوغارې وهي، نږدې ګرده ادبي نثرونه مو پر نرواکي او ښځه ځپنه کې غوټې وهي. پداسې ادبي فقر کې له نوي نسل څخه د سرېتوب څه تمه لرې برخوداره؟ لیکوالو حضراتو؛ دا چاره بدلول غواړي!»**

تنها سره له دې چې ساینتست دی، خو بیا یې هم په خپل دې پوست کې د ماشومانو او کوچنیانو د ادبیاتو د روانپېژندنې په نظر کې نیولو سره، داسې ټکي ته اشاره کړې ده چې ډېره اساسي او ټاکونکې ده.

تر څو چې په درسي کتابونو او یا د کوچنیانو له پاره په نورو ځانګړو کتابونو کې خپلو بچو ته تشدد او دوښمنې ورزده کوو، د وژلو او وینو تویولو سلسله جاري ساتو؛ نو د خپل هیواد د نوي نسل د ذهن په کروندو کې به د کرکې، وینو او وژنو تخم شیندو.

د کوچنیانو ادبیاتو لیکوالو سره ښایي چې د ماشومانو له پاره مینه، وطنپالنه ، انسان او ژوند خوښونه او راتلونکې ته امید وښیو او داسې کرکې ورته پرانیزو چې د نوي تکنالوژۍ او د نویو زدکړو او تمدن په لوري د حرکت یوه لاره وي، تر څو به په خامو تارنو کې بند یو او د پخوانیو هغو افکارو په دایره کې ښورو چې نورو ملتونو لا پخوا خپل ځان او خپله ټولنه او خپل نوی نسل د هغو له دایرې نه را ایستلي دي او د پوهې ډیوه په لاس د نوي او متمدن ژوند په لوري روان دي.

ما چې له ډیرو کلونو راپه دیخوا د نوي نسل د روزلو په سلسله کې د کوچنیانو پر ادبیاتو کار او پام کړی دی، د هغو د تجربو په رڼا کې د استاد ډوکتور تنها دا نظر تایدوم، خو دا یادونه هم اړینه ګڼم چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره کوم آثار چې زمونږ قلموالو تخلیق کړي یا ژباړلي دي، تر ډېره پورې یې دې مسالې ته پام ساتلی دی، په تېره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په دې وروستيو کلونو کې رامنځ ته شوي آثار؛ خو د افغانستان د معارف وزارت د نصاب په برخه کې د بناغلي تنها خبره صدق کوي، چې ما په خپلو ځينو اړوندو مقالو کې د هغو ځينو نيمګړتياوو ته اشارې کړې دي. تقريبا دياراس مياشتې مخکې مې د «د تعليمي نصاب پښتو کتابونه» تر سرليک لاندې مقاله خپره کړه. هلته ما داسې ليکلي وو:

«پرته له شکه چې اوسنی تعليمي نصاب بيشميره ستونزې او نيمګړتياوې لري چې هغه بايد د سمون په نيت په نښه ُيد وړ دی، زه کوالی شم چې د هر ټولګي شي. زما د دې تورو ليکل دا مانا نه رسوي چې دا تعليمي نصاب زما د تای د درسي کتابونو او تعلمي نصاب په باب مقاله نه،، بلکې مقالې وليکم؛ خو د نه ليکلو يوه وجه يې دا ده چې نه يې څوک لولي او نه يې تطبيقوي .
په درسی نصاب کې د بهرنيانو په غوښتنه او السوهني سره، د ګوندنونو اوتنظيمونو په فرمايش داسې درسي نصاب جوړ، چاپ او تطبيق کړای شوی چې له ګنو تيروتنو سره يې د وړې افغانستان په مليونونو ډالره په چاپ او خپرولو باندې ولګيدل. هر ډول چې دی، اوس خو د تعليمي نصاب په نامه د وطن نوي نسل ته په مخ کې اينودل شوی دی...»

د داسې يوه نيمګړي تعليمي نصاب د سمونې په خاطر او د هغو قلموالو له پاره چې د ماشومانو او کوچنيانو له پاره قلم چلوي، د تنها د اصلاحي نظر او دې ته ورته نظرياتو په پام کې نيول او د هغو تطبيقول يو اړين کار دی.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ